سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۰/۰۷/۲۷م

# پاکستان سره د چنې وهلو پرځای د اقدام وخت رسیدلی

د ۲۰۰۱کال د سیپتمبر له ۱۱ مې روسته چې د ترهګرو په لاس په نیویارک کې د سوداګریز مرکز برجونه د اور خوراک شول، پاکستان ته د نړیوالو پام د ترهګرو د اډې پتوګه راوګرځید !
د ۲۰۰۱ کال د سیپتمبر له پیښو مخکې هم پاکستان په سیمه کې د ترهګریزو کړو وړو له مخې تور ریکارډ درلود.
د القاعده ډاکومشر بن لادین او د طالبانو سرباند ملاعمر سره په نږدې او پخو اړیکو کې پاکستان لا پخوا د نړۍ په وړاندې خپل باور له لاسه ورکړی و.
د لندن د مترو په چاودنه کې چې عام وګړي قرباني شول، پاکستانی ترهګرو لاس درلود. نن سبا چې د نړۍ په هر ګوټ کې چاودنه کیږي که وځارل شي، پل یې اسلام اباد ته رسیږي!
افغانان خو له ډېر پخوا د پاکستاني ترهګرو د قرباني ګډې وو. له دیرش کلونو زیات پاکستان د خپلو ترهګرو په مټ کله د مجاهد او کله د طالب په نوم افغانستان سا اخیستلو ته نه دی پرېښې. خو د حالاتو له بهیر ښکاري چې نړۍ نوره د پاکستان له دوه مخی، ټګی او له ترهګرو سره په ملاتړ ستړې شوي وي او د افغانانو توی شویو وینو او اوښکو هم څه اغیز ښندلای وي!
د جولای په ۲۵ مه « د ویکی لیکس په نوم یوې ویبپاڼي چې د ویبسایټ پټه موسسه ده او عموماً محرمانه مواد خپروي نژدې دوه نوي زره سندونه خپاره کړل چې اکثره یې له ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۹ پورې له افغان طالبانو سره د پاکستان د پوځ او استخباراتود مستقیم ملاتړاو هغو ته د سلامشورو ښودنه کوي.
په دې اسنادو کې ویل شوي چې پاکستاني پوځیان نه یوازې د امریکایي او افغان ځواکونو د وژلوپه برخه کې له طالبانو سره مرسته کوي بلکې د افغان مشرانو د وژلو پلانونه هم جوړوي. دا اسناد له طالبانو سره د جنګي سلامشورو لپاره د پاکستان د آی ایس آی د پخواني مشرمتقاعد جنرال حمید ګل د کتني ښودنه هم کوي .»
ویکي لیکس ویبپاڼه دا لاسوندونه چې د نړۍ په رسنیو کې یې بیساري زوړ او غوغا جوړه کړی په داسي مهال خپروي چې تېرو څو ورځو کې د امریکا او لویدیځ لوړ پوړو چارواکو هم له پاکستانه غوښتي وو د ترهګرو په ځپلو کې خپله توره تېره کړي.
« په اسلام اباد کې د فارس خبریال د رپوټ له مخې د امریکا د درستیزانو د ډلګی مشر مایکل مولن په اسلام اباد کې د پاکستاني چارواکو سره له خبرو روسته په یوه خبري ناسته کې وویل چې د القاعده او طالبانو مشران اسامه بن لادین او ملاعمر په پاکستان کې میشت دي. نوموړي د امریکا د باندینیو چارو د وزیرې میرمن کلنټن ددغو ادعاو په بیا تکرار سره چې د ترهګرو دواړه مشران په پاکستان کې دي زیاته کړه، القاعده او لشکر طیبه ډلي چې د نړۍ او سیمې د امنیت لپاره لوی ګواښ دی په پاکستان کې پټ شوي دي.
مولن ټینګار وکړ چې اسلام اباد باید د دغو کسانو په وړاندې غوڅ اقدام وکړي او ویې ویل ترهګری سره مبارزې لپاره اړینه ده چې د القاعدې او طالبانو مشران او غړي ونیول شي ».
مخکي هم د جولای په ۱۸ مه په افغانستان کې د ناتو ترمشری لاندې د نړیوالو ځواکونو لوی ویاند جنرال بلاتز کابل کې په یوه خبري ناسته کې ویلي و « زموږ له استخباراتي مالوماتو سره سم په ډاډ سره ویلی شم چې د طالبانو مشر ملا محمد عمر په پاکستان کې پټ دی».
تېره اونی په بلجیم د ناتو مرکز کې د افغانستان لپاره د ناتو د سرلښکر ډیوېډ پیټرایوس د پیژندګلوی په خبرې غونډه کې د ناتو عمومي منشي اندریس فوګ راسموسن ویلي و « موږ به اوسنی ستراتیژی ته دوام ورکړو او ستراتیژي داده چې طالبان باید هم له سیاسي او هم له پوځي پلوه د دوی په اصلي مرکزونو کې وځپل شي ».
نن سبا د ترهګرو بازار په پاکستان کې دومره تود او ګرم دی چې د پاکستان واکمنان هم نورهغه نشي سړولای. د روان عیسوي کال د جولای په دریمه د پاکستان د مسلم لیګ (ن) ګروپ مشرنوازشریف په لاهور کې د خبریالانو یوې غونډې ته په وینا کې ویلي و :« ترهګري د پاکستان له بهرنی پالیسی او ملي سیاست سره نېغ په نېغه ارتباط لري او دا تګلاري په اسلام اباد کې جوړیږي ».
افغاني رسنیو او مشرانو خو له پخوا راهیسي په افغانستان کې د مرګ ژوبلو، ورانیو او ویجاړیو په اړه چې اسلام اباد کې د جوړ شویو ترهګرو په لاس ترسره کیږي، د نړۍ او سیمې په وړاندې خپل ګریوانونه څیري کړي دي.
اوس د ارواښاد ولي خان په قول « ژیړ دی، ګرد دی او تریو دی چې د عقل خاوندان ویوهیږي چې نارنج دی » ټول په دې پوه شوو چې پاکستان د ترهګرو د روزني، پالني، سیمې او نړۍ ته د هغو د استولو مرکزي اډه ده، باید ټول په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ګډه پاکستان ته ووایو چې دا ځالي ړنګې کړه. خو څنګه چې د پاکستان تېر تاریخ څرګندوي، پاکستان پخپله خوښه دا کار نکوي نو په زور باید اړویستل شي چې د نړۍ دا غوښتنه ومني.
د ویکی لیکس ویبپاڼې د رسوایو په وړاندې د موضوع د حساسیت له کبله، په واشنګټن کې د پاکستان سفیرحسین حقاني وویل «چې دا راپور له هغو حقایقو سره په تضاد کې دی چې همدا اوس په سیمه کې عملاً موجود دي .»
دلته ښاغلي حقاني بیا هڅه کړې چې نړۍ تېرباسي، خو په سیمه کې موجود حقایق لکه چې مخکې وویل شول دا دي چې بن لادین او ملاعمر په پاکستان کې دي او ترهګر د پاکستان د دولت په ملاتړ ترهګر دي!
د امریکا غبرګون هم چې د ملي امنیت سلاکار جېمز جونز په اعلامیه کې څرګندیږي :« د امریکا متحدایالتونه د افرادو او موسسو له لوري د هغومحرمانه اسنادو افشا په کلکه غندي چې ممکن د امریکایانو او زموږ د شریکانو ژوند او زموږ ملي امنیت له خطر سره مخامخ کړي.»، د امریکا د بهرنیو چارو د وزیري میرمن کلنټن او د لوی درستیز مایکل مولن روستیو څرګندونو سره اړخ نه لګوي او په پاکستان کې له موجودو حقایقو سره په اړوپیچ کې دي.
**د وخت غوښتنه دا ده هم باید پاکستان او هم باید امریکا د ترهګرو په اړه د دوه مخی او ټګی له سیاسته تېر شي.**

پای

اخځونه :
افغان جرمن انلاین او تاند بریښناپاڼې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ